سلطان جان کلیوال اول حمل ۱۳۹۸

# د محب او حیدری ملاتړ وکړئ!

اته لس کاله وشول چی د امریکا دولت په افغانستان کی په پوره اختیاراتو سره حضور لری. په دی ټوله موده کی چی د امریکا د نظامی چاراوکو هرڅه زره غوښتل او هرڅه یی کول افغان ولس په پټه خوله زغمل او په دی ټوله اوږده دوره کی داسی څوک پیدا نه شو چی امریکا ته حتی دومره و وایی چی دا کلی او بانډې په توپونو او راکټونو مه ولی، دی کلو او بانډو کی هغه بی وزلی افغانان ژوند کوی چی ستاسو د مرستو یو ډالر هم دوی ته نه دی ور رسیدلی. هیڅ یو دولتی چار واکی پیدا نه شو چی امریکا ته و وایی چی د بمونو مور بم زمونږ په درو کی زمونږ په بی وزلو خلکو مه آزموی. هیڅ چاروکی ورته و نه ویل چی زمونږ د خلکو په ودونو او جنازو بمونه مه غورزوی او په لسګونو داسی نوری خپل سری.

که پوښتنه وشی چی ولی؟ نو زمونږ چاراوکی به شاید همدا ځواب و وایی چی ځکه، امریکا زمونږ دوست دولت دی، زمونږ ټولی اړتیاوی همدوی راته پوره کوی، د تروریزم سره نه یواځی داچی مخامخ مبارزه او ګرمه جګړه کوی، بلکی زمونږ اردو او نظامی قوتونه روزی، اکمالوی یی، او د جګړی په میدان کی ورته هره ضروری مرسته ور رسوی او داسی نوری هغه خبری چی د ځان له تیر ایستلو پرته نور هیڅ دول حقیقت پکی شتون نه لری.

خو که د امریکایانو نه پوښتنه وشی چی تاسو افغانستان ته ولی راغلی یاست او دلته کومی وظیفی تر سره کوی؟ ټول یی (چاراوکی او عادی خلک) صرف یو ځواب وایی او هغه دا چی مونږ دلته د تروریزم سره د مبارزی د پاره راغلی یو تر څو هغه سرکوب شی او د بیا د پاره مونږ ته ګواښ و نه شی کړلی. که څه هم افغان ولس او حتی افغان چاراوکو په کراتو کراتو امریکا ته دا موضوع چی د تروریستانو ځالي چیری دی او له کومه ځایه تغذیه کیږی؟ روښانه شویده ، خو هغه د چا خبره امریکایی مقاماتو په دی خبرو هیڅ رګ غوږ و نه ښوراوه. سره له دی چی امریکا د دنیا د بل هردولت نه په دی ډیره ښه پوهیږی چی د پاکستان په نوم دولت او د دی دولت نظامی چاراوکی او په خاصه توګه د دی دولت د جاسوسی دستګاه ( آی، اس، آی)، د نړیوال تروریزم اصلی ټاټوبی دی او د تروریستی ډلو علینی حمایت کونکی، روزونکی او تغذیه کونکی دی، خو هیڅکله یی د پاکستان د دولت نه د دی نړیوال جرم د سرته رسولو په هکله یوه پوښتنه هم و نه کړه ، نه یواځی داچی پوښتنه یی و نه کړه بلکی هر کال یی په دی بهانه چی د تروریزم سره د مبارزی په میدان کی د امریکا مرستندوی دی، په لسګونو بیلیونه ډالره هم ورته ورکوی او پاکستان

په همدی پیسو تروریستان روزی، لومړی یی افغانستان ته رالیږی او هلته د افغان ولس سره یو ځای د همدی امریکا او د ناتو د نورو غړو هیوادونو بچی پری وژنی، اوهم یی نوری دنیا ته د دهشت خورولو د پاره لیږی.
بن لادن په پاکستان کی و میندل شو، ملا عمر، ملا منصور، ملا حقانی او نور ټول پا پاکستان کی پراته وو، د کویټي او دپیښور شورا ګانی په ښکاره د هشت ګرو ته پلانونه جوړوی، ملا برادر تر پرونه پوری د (آی،اس،آی) د نظارت لاندی همله و، خو امریکا بیا هم وایی چی پاکستان، د تروریزم په وړاندی زمونږ مرستندوی دی. څنګه یی سالم عقل قبلولی شی؟؟؟
طالبانو د خپلی وسله والی مبارزی له پیل څخه ویل چی خبری کوو خو د امریکا سره. خو امریکا خبرو ته نه حاضریده.
ډاکټر اشرف غنی انتخابات و ګټل خو امریکا مجبور کړ چی د ملی یووالی په نوم دوه سری دولت و منی.
پس له کلونو امریکا دی ته حاضره شوه چی د طالبانو سره مخامخ خبرو ته کښینی. دا خبریی د افغان امریکایی ډاکټر خلیلزاد په مشری پیل کړی. په دی کار افغانان ډیر خوشاله شول او د پاکستان دولت تشویش څرکند کړ چی ګوندی خلیلزاد ( چی د بل هر امریکایی نه د پاکستان په دوه مخی ښه پوهیده) به طالبان دی ته و هڅوی چی پاکستان ته د دوست دولت نه بلکی د اصلی دښمن په سترګه و ګوری او د دوی له قوماندی نه به یی وباسی. خبری ښی پر مخ روانی وی چی ناڅاپه د طالبانو او ورسره افغان ناراضه او له قدرت نه ګوښه شوی عناصر په مرموزه توګه ماسکو ته ور و غوښتل شول. د کابل دولت خپل تشویش د امریکا سره شریک کړ، خو امریکا مطلقاً چپه پاتی شوه، نه یوائی داچی افغان دولت ته یی کوم کوم اطمنان ورنکړ، د ماسکو د غونډی سره سمی دا اوازی هم را ډیری شوی چی امریکا ِغواړی چی یوه داسی موقته اداره د موجود دولت په ځای را منځ ته کړی چی تر زیاته حده د طالبانو د پاره د منلو وړ وی. تر دی را وروسته د طالبانو او امریکا تر منځ خبری په ځو دوروکی پټی او د بندو دروازو ترشا و وشوی، خو تر کومه ځایه چی و کټل شول په افغانسان کی دننه ځنی ماجرا جوړونکی څیری لکه حامد کرزی، په اغلب ګومان د انګریز په مشوره د پاکستان په دستور مستعفی حنیف اتمر او په پاکستان او ایران کی د جوړو شوو جهادی تنظیمونو بقایا، زور واکی او په عامه اصطلاح لنډه غر ، مفسیدین او د دولت نیمایی واکدار ډاکټر عبدالله ، ټول دی ته و هڅول شول چی د دآکټر اشرف غنی د سولی له طرحی او مشورتی لوی جرګی او د جمهوری ریاست د ټاکنو سره په علنی توګه مخالفت وکړی او دا سی تبلیغات پیل کاندی چی اشرف غنی د سولی په لار کی خنډونه جوړوی.
دی ټولو خبرو دولت مجبور کړ چی د معتبر دولتی مقام له لوری د امریکا د استازی ډاکټر زلمی خلیلزاد په کړو وړو له دی کبله چی د افغان ولس منتخب دولت چی بی له شکه د سولی د خبرو د پر مخ تللو د پاره محوری حیثیت لری ، غواړی چی په حاشیه کی راولی او په خپله خوښه بی له دی چی د افغانانو او حتی د خپلو بچیانو وینو ته او قربانیو ته ارزښت ورکړی، لکه د بن د توافقاتو په څیر یو بله کر غیرنه معامله را منځ ته کړی. ډاکټر محب د خپل دولت اندیښنه د امریکا په دننه کی د دی دولت د چاروکو سره د یوه جدی ښکایت په توګه شریکه کړه، خو له بده مرغه لکه څنګه چی د دنیا هیڅ زورور، د کمزوری له خوا د ریښتاو خبری نه اوریدلی او نه یی زغملی شی، نو د افغانستان د امنیت د شورا د مشر طرحه لکه د امریکا په منځ کی چی د بمونو مور چاودلی وی داسی تاثیر وکه. د د ی سره

سم د پاکستان صدراعظم عمران خان هم د یوه بل با شهامته افغان چار واکی محمد اشرف حیدری له خولی هغه څه واوریده چی باید اوریدلی وای.

اوس امریکا وایی چی د محبب سره هیڅ ډول اړیکی نه ساتو. شاید عمران خان به هم حیدری صاحب ته و وایی چی زه وروره خپل کورته لاړ شه. زمونږ په هیواد کی د ننه هم ډیر سیاسیون وایی چی داکسان په دیپلوماسی نه پوهیږی ، ځوانان دی ، خونګرم دی او سهوه یی کړیده. زه هم په دیپلوماسی نه پوهیږم، خو په دی پوهیږم چی که د امریکا دولت او هم د پاکستان دولت ته د طالبانو د سقوط نه وروسته په کلکه دا ویل شوی وای چی، که د دی د پاره زمونږ لاس نیوی کوی چی له مونږ نه غلامان جوړکړی نو پام چی دا خیال دی په سر کی در تیرنشی. ته خپل حد باید وپیژنی او زه به خپل حد نه تیری نه کوم. باخبر!

نو اوس به زمونږ د کورواکداران دوی نه وایی .

وطنوالو! په خاصه توګه د وطن ځوانانو تاسو ته وایم چی که د ویاړ نه ډک خپلواک او سر لوړی ژوند غواړی او په خپل کور کی د میلمه په څیر اوسیدل نه غواړی نو د دی دوه ځوانو افغان دیپلومانو ملاتړ وکړی، په دی حساسو شیبو کی د اشرف غنی په مشری دخپل دولت تر شا ودریږی او خپل سر نوشت پخپله و ټاکئ.

په طالبانو هم غږ کوم چی که د ایمان یو کوچنی برخه کی در کی پاتی وی نو د محبب او حیدری په څیر د خپل دین او وطن د دښمنانو خولی له خاورو ډکی کړی او لکه د رینښتینو وطنپالانو په څیر د خپلو وطنوالو سره په خپله خوله روغه وکړی او د نورو د احتیاج نه خپل راتلونکی نسلونه آزاد کړی.پای

یادونه: که چیری ګران لوستونکی و غواړی چی د دی شاعر او لیکوال نوری لیکنی او سرودونو هم ولولی، نو کولای سی چی، پر انځور باندی د «کلیک» په اجرا کولو سره د لیکونکی مقالی او مطالب د «آرشیف» فهرست ته، لار ښودنه تر لاسه کړی!